# خبر اوسئ چې دا دنیا او څه چې په کې دي لعنتي دي، پرته د الله تعالی له یاد (ذکر) او هغه څه څخه چې تړاو ورسره لري، او عالم یا زده کونکی

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې ویل یې: " خبر اوسئ چې دا دنیا او څه چې په کې دي لعنتي دي، پرته د الله تعالی له یاد (ذکر) او هغه څه څخه چې تړاو ورسره لري، او عالم یا زده کونکی".

[حسن] [الترمذي او ابن ماجه روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې دنیا او هر څه چې په کې دي د الله تعالی له خوا داسې یو څه ګڼل شوي چې کرکه ترې شوې، غندل شوې، پرېښودل شوې او لرې ابسته شوې ګڼل شوې ده، ټول هغه څه لرې پرېښودل شوي چې پکې دي او هېڅ ستاینه یې نه کېږي، پرته د الله تعالی له یاد او هغه څه څخه چې ورته دي او الله تعالی یې خوښ ګڼي، او په شرعي علم پوه چې نورو ته یې ورزده کوي او یا یې پخپله زده کوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3788